# د محرومیت او ځپلو دوام

## په ۲۰۲۳م کال کی د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت راپور

مـــارچ ۲۰۲۴




رواداری
RAWADARI

رواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشري حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشري حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونی، او د قربانیو محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پرېتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشري حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشري حقونو د رسغړونې پیښې، څرنګه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولۍ رسه خپروي.

# د مطالبو لړ لیک



سریزه ۱
د معلوماتو راټولولو طریقه ۲



**لومړۍ برخه – د مدني او سیاسي حقونو نقض** ۴
د ژوند د حق نقض ۴
د انفجاري او انتحاري بریدونو مرگ ژوبله ۵
له جگړې څخه د پاتي ماینونو او چاودیدونکو توکو د چاودنو له امله اوښتې مرگ ژوبله ٦
هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۷
د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو مرتکبین څوک دي؟ ۷
الف: د مخکني حکومت د کارکوونکو هدفي وژنې ۸
ب: له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د ملکي وگړو وژنه ۹
ج: د نورو ملکي هیوادوالو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۱۰
اجباري تري تم کول ۱۰
د افرادو خپلسرې او غیر قانوني نیونې ۱۱
د مخکني حکومت د کارکوونکي غیر قانوني نیونې ۱۲
د مدني فعالانو، د بشر حقونو د مدافعانو او خبریالانو غیرقانوني نیونې ۱۳
د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د خلکو خپلسرې نیونې ۱۴
د خپلسرو او غیر قانوني نیونو نور موارد ۱۴
د انساني کرامت د حق نقض ۱۵
بندیانو سره ناوړه چلند او شکنجه ۱۵
د بندیانو وژل ۱٦
د ظالمانه او غیر انساني سزاگانو پلي کول ۱٦
د سوله ییزو راټولېدنو ځپل او د لاریون کوونکو نیول ۱۷



**دویمه برخه- د ښځو د بشري حقونو وضعیت** ۱۹
د ښځو د زده کړو د حق نقض ۱۹
د کار او بوختیا له حق څخه محروмول ۲۰
روغتیایي خدمتونو ته محدود لاسرسی ۲۱
د آزاد تگ راتگ حق ۲۱
عدالت ته د لاسرسي نشتوالی ۲۲



**دریمه برخه- پایله او وړاندیزونه** ۲۵
پایله ۲۵
وړاندیزونه ۲۵

## سریزه

د رواداري د ځپړنو موندنې ښيي چې په افغانستان کې په ۲۰۲۳ میلادي کال کې د بشر حقونو وضعیت په بېلابېلو ابعادو کې لا خراب شوی دی. د ژوند حق په بېلابېلو بڼو نقض شوی، لکه هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې، او په ځانګړې ډول د مخکني حکومت پر کارکوونکو او د هغوی پر نږدې کسانو، معترضو ښځو، د بشر حقونو پر مدافعانو، او نورو غیر نظامي هیوادوالو باندې په بېلابېلو برخو کې په پراخه توګه غچ اخستونکي بریدونه شوي دي. همدا راز، خپلسرې او غیر قانوني نیونې، شکنجې، ناوړه چلند او د بندیانو وژل، تري تم کول او د ظالمانه او غیر انساني سزاګانو ورکول هغه نور مهم موارد دي چې په هیواد کې د بشر حقونو د ناورین او ترینګلي وضعیت ښکارندويي کوي.

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، طالبانو په دې موده کې له هیڅ ډول ځواب ویلو، او د مسئولیت له احساس پرته، په تاوتریخوالي سره د اعتراضي راټولېدنو او غونډو جوړولو، د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسرو او غیرقانوني نیونو، او د ښځینه او نارینه معترضینو، د بشر حقونو فعالانو، خبریالانو او خپلو مخالفینو ځپلو ته دوام ورکړی، او په دې سره یې پر هر ډول فردي او ډله ییزې مدني هڅې کړی تنګه کړې ده.

سربېره پر دې، په یاده موده کې نه یواځې دا چې د ښځو د لاسه تللو حقونو د احیا او د هغوی د بشري آزادیو د تضمین لپاره هیڅ پرمختګ نه دی شوی، بلکې د دې راپور له موندنو سره سم د طالبانو اسلامي امارت د ښځو د زده کړو حق، د کار حق او د آزاد تګ راتګ د حق اړوند محدودوونکي اقدامات هم ترسره کړي دي. دې وضعیت د هیوادوالو د سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي ژوند بېلابېلو برخو ته خورا زیان اړولی.

دغه راپور په ۲۰۲۳ میلادي کال کې د ښځو د مدني، سیاسي او بشري حقونو د نقض د خورا مهمو پېښو شننه او ارزونه کوي، او تمه ده چې د دې راپور موندنې او وړاندیزونه به د نړیوالې ټولنې، د ملګرو ملتونو سازمان، حقوق بشري سازمانونو، حاکمو چارواکو او نورو اړوندو ډلو او مراجعو د پاملرنې وړ وګرځي، او د هیوادوالو د انساني حقونو د تامین لپاره عملي ګامونه واخستل شي.

## د معلوماتو راټولولو طريقه

رواداري د ۲۰۲۳ کال په بهير کې په افغانستان کې د بشر حقونو په منظمې او پرله پسې څارنې سره د مدني او سياسي حقونو د نقض اړوندې پېښې راټولې کړې او مستندې کړې دي. د رواداري څارونکو په دې موده کې د هيواد په ۲۷ ولايتونو[1] کې بېلابېلو سرچينو ته مراجعه کړې، معلومات او مدارک يې ترلاسه کړي او بيا يې د اطلاعاتو په بانک کې خوندي کړي دي. قربانيان، د کورنۍ غړي يې او د هغوی نږدې کسان، عيني شاهدان، د روغتيايي مرکزونو مسئولين او د ښوونيزو بنسټونو ښوونکي، د بشر حقونو مدافعان، مدافع وکيلان، د عدلي او قضايي بنسټونو پخواني او برحاله کارکوونکي او خوشې شوي بنديان هغه مهمې سرچينې دي چې د دې راپور په معلوماتو کې يې همکاري کړې ده. پر همدې بنسټ، د بشر حقونو د نقض ټولې پېښې چې په دې راپور کې راغلې دي کم تر کمه د درې سرچينو له لخوا تائيد شوي او بيا يې د بشر حقونو د بين المللي اسنادو په چوکاټ کې شننه او ارزونه شوې ده.

د رواداري له مخکنيو موندنې او راپورونو، او له يو شمېر نورو اړوندو راپورونو چې د بشري حقونو بنسټونو او مراجعو له خوا خپاره شوي، هم په دې راپور کې ګټه اخستل شوې ده. سربېره پر دې، کتبي اسناد، فرمانونه او رسمي ليکونه چې د ۲۰۲۳ کال په بهير کې د طالبانو له خوا صادر شوي او د رواداری په واک کې ورکړل شوي د دې راپور د معلوماتو نورې سرچينې دي.

د رواداری موندنې ښيي چې په ۲۰۲۳ کال کې اطلاعاتو ته لاسرسی د ۲۰۲۲ کال په پرتله سخت شوی دی؛ ځکه طالبان په سختو اقداماتو او مقرراتو وضعه کولو سره د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند د هر ډول معلوماتو خپرولو مخنيوی کوي. ترلاسه شوي شواهد ښيي چې طالبانو په ۲۰۲۳ کال کې له ټولو خوشې شويو بنديانو ژمنه اخستې چې رسنيو او بشري حقونو سازمانونو سره به هيڅ ډول معلومات نه شريکوي. همدا راز، پر قربانيانو او د هغوی د کورنۍ پر غړو او حتا د هغوی پر نږدې کسانو هم فشارونه سخت شوي دي. يو شمېر قربانيانو او عيني شاهدانو رواداري ته ويلي چې طالبانو په ګواښلو سره له رسنيو او بشري حقونو بنسټونو سره هر ډول معلوماتو له شريکولو منعه کړي دي. دا چلند سيمه ييزو رسنيو او خبريالانو سره هم شوی دی، تر دې چې طالبانو يو شمېر خبريالان د بشر حقونو د نقض د پېښو د خبري پوښښ له امله نيولي، بنديان کړي او شکنجه کړي دي. **سربېره پر دې، د هيواد په ځينو برخو کې، په ځانګړي ډول پنجشېر ولايت کې طالبانو له ځيرک موبايل څخه ګټه اخستل منعه اعلان کړي او د تلاشۍ په پوستو کې د خلکو په بدني تلاشۍ سره يې تطبيق او څارنه کوي. په دې ولايت کې له ځيرک موبايلونو څخه د ګټې اخستنې منعه کول د امنيتي اندېښنو په پلمه دي؛ خو په واقعيت کې دا چاره د بشر حقونو د نقض پېټول او د اړوندو معلوماتو د خپرولو د مخنيوي لپاره ده.**

له بل پلوه، يو شمېر قربانيان او د هغوی خپلوان د بشري حقونو بنسټونو سره له مرکې او د معلوماتو له شريکولو ډډه کوي. يو شمېر دې کسانو رواداري ته ويلي چې د عدالت د پلي کېدو هيله نه لري، او نه هم له بشري حقونو بنسټونو سره د معلوماتو شريکول پر هغوی له تېرو شويو کړاوونو څخه څه کمولی شي.

پر همدې بنسټ، هغه څه چې په دې راپور کې مطرح کېږي د بشر حقونو د نقض د مهمو پېښو يواځې يوه برخه ده چې رواداري بنسټ د خپلو امکاناتو، ظرفيت او شته سرچينو په تناسب تنوانېدلی مستندې يې کړې. ډېرې نورې پېښې شته چې يادو ستونزو ته په پام سره د رواداري څارونکي نه دي توانيدلي هغه مستندې کړي، که څه هم د معلوماتو د بشپړېدو په صورت کې به په اړوندو نورو راپورونو کې ګټه ترې واخستل شي.

د يادونې وړ ده چې د سرچينو او قربانيانو د امنيت د تضمين لپاره د مرکه شويو د شهرت او همدا راز د ځينو پېښو د دقيقې نېټې او ځای په اړه له جزئياتو ورکولو قصداً ډډه شوې. همدا راز، دا چې رواداري د ۲۰۲۳ کال د لومړيو شپږو مياشتو راپور مخکې خپور کړی دی؛ نو تر کومه چې ممکنه ده د اړوندو هغو قضيو له بيا توضح څخه په دې راپور کې ډډه شوې چې د لومړيو شپږو مياشتو اړوندې وې.[2]

۱ کابل، غزني، ميدان وردګ، ننګرهار، هرات، بلخ، باميان، بدخشان، پکتيا، پکتيکا، خوست، کنړ، کندز، تخار، سمنګان، سرپل، دايکندي، جوزجان، هلمند، ارزګان، فراه، غور، نيمروز، پنجشير، پروان، بغلان، لغمان او نورستان.

۲ رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د بشر حقونو وضعيت، ۲۰۲۳ اګست: https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf



عکس: سهراب عمر

لومړۍ برخه

# د مدني او سیاسي حقونو نقض

# لومړی برخه – د مدني او سیاسي حقونو نقض

**په دې راپور کې په ټوله کې د مدني او سیاسي حقونو د نقض پر پېښنو بحث شوي چې د ۲۰۲۳ کال په لړ کې د هیواد په بېلابېلو برخو کې پېښې شوي او د رواداري له خوا مستندې شوې دي. په دې برخه کې په مشخص ډول د ژوند حق، د آزادۍ او شخصي امنیت حق، د انساني کرامت حق، د سوله ییزو غونډو جوړولو پر حق بحث کیږي.**

## د ژوند د حق نقض

د رواداري د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۳ کال په لړ کې په ټول هیواد کې کم تر کمه ۷۷۲ تنه د بشر حقونو د نقض په بېلابېلو پېښنو کې وژل شوي او ټپیان شوي دي، چې له دې څخه ۵۰٦ تنه وژل شوي او ۲٦٦ تنه شمېر ټپیان شوي دي. وژل شوي ۳۹۰ تنه نارینه،۵۸ ماشومان، ۳۸ ښځینه او د ۲۰ تنو نامعلوم دي. ټپیان ۱۸۴ نارینه، ۳۳ ماشومان، ۹ ښځینه او د ۴۰ تنو هویت نامعلوم دي. د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي، د بشر حقونو مدافعان، قومي مشران، د طالبانو مخالفین او نور غیر نظامي هیوادوال د دې پېښنو قربانیان دي.

**۷۷۲** ټولو وژل شوی او زخمیانو شمیر
**۵۰٦** د وژل شوي شمیر
**۲٦٦** تنه ټپیان شوي
**۳۹۰** د نارینه وژل شوي شمیر

**۵۸** تنه ماشومان وژل شوي
**۳۸** تنه ښځینه وژل شوي
**۲۰** تنه هویت نامعلوم
**۱۸۴** تنه نارینه ټپیان شوی

**۳۳** تنه ماشومان ټپیان شوی
**۹** تنه ښځینه ټپیان شوی
**۴۰** تنه هویت نامعلوم

د ژوند د حق د نقض پېښې چې په دې برخه کې پرې بحث کیږي، هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې، ځانمرگي بریدونه او د ماینونو او چاودیدونکو توکو چاودنې دي.

## ۱- د انفجاري او انتحاري بریدونو مرګ ژوبله

په ۲۰۲۳ کال کې د ٦ انفجاري او انتحاري بریدونو په پایله کې په کابل، بدخشان او بغلان ولایتونو کې کم تر کمه ۲۳۷ تنه وژل شوي او ټپیان شوي دي چې له دې څخه ۸٦ وژل شوي او ۱۵۱ تنه ټپیان شوي دي. د دې بریدونو ډېری قربانیان هزاره او شیعه هیوادوال دي.

| ۲۳۷ | ۸٦ | ۱۵۱ |
|---|---|---|
| تنه وژل او ټپیان شوي دي | تنه وژل شوي دي | تنه ټپیان شوي دي |

د ۲۰۲۳ کال د جنوري پر ۱۱مه نېټه په کابل ښار کې د یو ځانمرګي برید په پایله کې کم تر کمه ۲۰ تنه ملکي وګړي ووژل شول او ۴۰ تنه ټپیان شول. همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د جون پر ٦ او ۸ نېټو د بدخشان ولایت په مرکز کې د دوو ځانمرګو بریدونو کې کم تر کمه ۲۱ تنه ووژل شول او ۳۰ تنه ټپیان شول.

د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر پر ۲٦مه د کابل په لویدیځ دشت برچي کې، چې هزاره او شیعه مېشته سیمه ده، د ورزش پر یو سالون په تروریستي برید کې کم تر کمه ٦ تنه ووژل شول او ۱۱ تنه نور ټپیان شول. همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۷مه نېټه د کابل لویدیځ کې د دشت برچي په «مهتاب قلعه» سیمه کې په یو «کاسټر» موټر کې د ځای پر ځای شوي بم د چاودنې له امله کم تر کمه ۷ تنه ووژل شول او ۲۰ تنه ټپیان شول.

همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر پر ۱۳مه نېټه د بغلان ولایت د پلخمري ښار په دویمه ناحیه کې د شیعه هیوادوالو په یو مسجد کې د جمعې د لمانځه پر مهال چاودنه وشوه چې کم تر کمه ۳۲ تنه یې ووژل او ۵۰ تنه یې ټپیان کړل. د دې ټولو بریدونو مسئولیت د داعش ډلې پر غاړه اخستی.

**د ولایت له مخې د انفجاري او ځانمرګو بریدونو د قربانیانو تفکیک**



| بدخشـــان | بـــغلان | کـــابل |
|---|---|---|
| ۵۱ | ۸۲ | ۱۰۴ |

## - له جګړې څخه د پاتې ماینونو او چاودیدونکو توکو د چاودنو له امله اوښتې مرګ ژوبله

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۳ کال په بهیر کې کم تر کمه ۱۰۷ تنه د ځای پر ځای شویو ماینونو، سرګلولو او د وسله والو جګړو د پاتې چاودیدونکو توکو له امله وژل شوي او ټپیان شوي، چې له دې څخه ۵۵ تنه چې ۴۳ ماشومان ۱۱ نارینه او یوه ښځه ده وژل شوي او د ۵۲ په شمیر کسان چې ۳۱ ماشومان، ۱۴ نارینه او ۷ ښځې دي ټپیان شوي دي. د دې پېښو ډېری قربانیان، لکه څنګه چې د راپور موندنې ښیي، ماشومان دي.

**۱۰۷**
تنه وژل او ټپیان شوي دي

**۵۵**
تنه وژل شوي دي

**۴۳**
تنه ماشومان وژل شوي دي

**۱۱**
تنه نارینه وژل شوي دي

**۱**
ښځه وژل شوي دي

**۵۲**
تنه ټپیان شوي دي

**۳۱**
تنه ماشومان ټپیان شوي دي

**۱۴**
تنه نارینه ټپیان شوي دي

**۷**
تنه ښځې ټپیاني شوي دي

د سره صلیب بین المللي کمېټې هم اعلان کړی چې «د ۲۰۲۲ کال له جنوري څخه د ۲۰۲۳ کال تر جون پورې د ماینونو او د مهماتو د چاودنو د ۵۴۱ پېښو له امله په افغانستان کې ٦٤۰ تنه ماشومان وژل شوي یا ټپیان شوي دي، چې دا ارقام له جګړې څخه د پاتې شویو انفجاري موادو د چاودنو له امله د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ٦۰ سلنه کېږي.»[۳]

سره له دې، له مخکنیو جګړو څخه پاتې انفجاري مواد او ماینونه په ځانګړې ډول د افغانستان په سویلي او ختیځو ولایتونو کې دا مهال خورا لویه ننګونه او د ملکي مرګ ژوبلې تر ټولو مهم عامل دی؛ دا مهال په ۱۲۰۰ کیلو متر مربع ساحه کې ۴۱۵۸ خطرونه په نښه شوي چې شاوخوا ۱۵۳۷ سیمې ګواښي او د ملکي خلکو د تګ راتګ پر وړاندې خنډ ګرځېدلي دي.[٤]

ماینونه او چاودیدونکي توکي معمولاً په ډېر تګ راتګ درلودونکو ځایونو لکه عمومي لارو، زیارتونو، زراعتي ځمکو او حتی د خلکو په کورونو کې ځای پر ځای شوي چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې او په پراخه توګه د ژوند د حق د نقض سبب شوي دي. لکه د ۲۰۲۳ کال په سپتامبر میاشت کې د غزني ولایت په مقر ولسوالۍ کې د یو ماین د چاودنې له امله د یوې کورنۍ درې غړي ووژل شول. دا ماین هغه مهال وچاود چې یادو کسانو د نوي کور د جوړولو لپاره له غره څخه کاڼي راوړل او «تراکتور» یې پر ماین ور برابر شو. په دې

۳ د سره صلیب بین المللي کمېټه، د ناچادېدلواو له له جګړې پاتې چاودیدونکو توکو اصلي قربانیان ماشومان دي. ۱۸ جولای ۲۰۲۳. /https://blogs.icrc.org/afghanistan/prs/2023/07/206

٤ بي بي سي فارسي، ۴ اپریل ۲۰۲۳. https://www.bbc.com/persian/articles/c04vx0r25nyo

پېښه کې پلار او دوه ځامن یې ووژل شول. په دې ولایت کې سیمه ییزو سرچینو ویلي چې پر ماینونو او له جګړې څخه پاتې چاودیدونکو توکو باندې لړلې سیمې دا مهال تر ټولو لویه امنیتي ننګونه ده چې تل یې ملکي خلک او په ځانګړې ډول ماشومان قرباني کیږي.

همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د ډسامبر پر ۱۲مه نېټه د ننګرهار ولایت په «شېرزاد» ولسوالۍ کې د یو ګرنېټ د چاودني له امله دیوې کورنۍ ۱۰ غړو ته مرګ ژوبله واوښته. په دې پېښه کې درې ماشومان مړه او د درې ښځو په ګډون ۷ تنه نور ټپیان شول.

## ۳- هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

د دې راپور د موندنو پر بنسټ د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ له لومړۍ د ډسامبر تر ۳۱مې نېټې کم تر کمه ۴۲۸ تنه چې ۳۷۴ نارینه، ۳۹ ښځینه او ۱۵ ماشومان په هدفي او مرموز ډول او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپیان شوي دي، چې په دې کې ۳۶۵ تنه وژل شوي او ۶۳ تنه نور ټپیان شوي دي.




**د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو مرتکبین څوک دي؟**

د څېړنو موندنې ښیي چې طالبان او ناپېژاندي کسان په ۲۰۲۳ کال کې د هدفي او غیر قانوني وژنو مرتکبین دي. د مخکني حکومت کارکوونکي، د بشر حقونو فعالان، د طالبانو مخالفین او منتقدین او نور ملکي وګړي د دې بریدونو قربانیان دي. دې ته په پام سره چې دا موضوعات حساس او پېچلي ۀ او په ځانګړې ډول د اطلاعاتو د ټولو لپاره د طالبانو هڅو ته په پام سره رواداري بنسټ ندي توانېدلی چې د یو شمېر دغو پېښو دقیق لاملونه او انګېزې مستندې کړي. د دې راپور له موندنو سره سم، طالبان د دې قضیو اړوند معلومات په کلکه کنټرولوي او د خپراوي مخنیوی یې کوي. لکه څنګه چې ډېرې موارد شته چې د قربانیانو د کورنیو غړې او یا سیمه ییز خبریالان د دې ډول وژنو په اړه د معلوماتو ورکولو له امله نیول شوي او بندیان شوي دي. همدا راز، رواداري په کندهار ولایت کې د هدفي وژنو قضیې مستندې کړې دي چې د قربانیانو یو شمېر کورنۍ د طالبانو له خوا د ګواښ او اخطار له ترلاسه کولو وروسته چې باید رسنیو او حقوق بشري بنسټونو ته معلومات ورنکړي، د اوسېدو ځای یې پرېښې او نامعلوم ځای ته کوچیدلي دي.


د طالبانو د استخباراتو او اطلاعات او کلتور ادارو هم سیمه ییزو خبریالانو او رسنیو ته اخطار ورکړی چې نشي کولای دې ډول پېښو ته خبري پوښښ ورکړي. هغه چاره چې په دې ډول وژنو کې د طالبانو د غړو د لاس لرلو اړوند جدي پوښتنې راولاړوي. که څه هم، طالبانو تل په دې ډول پېښو کې له لاس درلودلو انکار کړی او هغه یې نامعلومو وسله والو ته منسوب کړي دي؛ خو تر اوسه یې د دې نامعلومو کسانو د پېژندلو او نیولو لپاره هیڅ اقدام نه دی کړی، او همدا مساله د هیوادوالو تر منځ د جدي اندېښنې او وېرې د فضا رامنځته کېدو سبب شوې. خلک پوښتنه کوي چې دا نامعلوم کسان څوک دي او ولې نه نیول کیږي؟ بله پوښتنه دا ده چې طالبان ولې د دې ډول قضیو اړوند معلومات پټوي او د قربانیانو کورنۍ ګواښي.

له بل پلوه، طالبان تر خپل امر لاندې د سرتېرو او ځواکونو د چلند د څارنې لپاره هیڅ میکانیزم نه لري او پر همدې دلیل هغوی په اسانه او له هر ډول ځواب ویلو پرته په بېلابېلو بڼو د بشر حقونه نقضوي، او پر خلکو غچ اخستونکي بریدونه کوي. سره له دې، د طالبانو د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او استخباراتو اړوند ځواکونه په ځینو مواردو کې په ولایتونو کې رسمي یونیفورم نلري او معمولاً له سیمه ییزو لباسونو ګټه اخلي چې «نامعلومو وسله والو» سره یې د دوی تفکیک سخت کړی دی.

د قربانیانو د کورنیو د څرګندونو پر بنسټ، «نامعلوم وسله وال» په واقعیت کې خپله د طالبانو اړوند کسان دي چې د مخکني حکومت له کارکوونکو، مخالفینو او منتقدینو څخه په دې طریقه غچ اخلي. ځکه طالبانو قدرت ته له بیا ستنېدو څخه راپدې خوا، په پراخ ډول په ټول هیواد کې د شخصي وسلو د راټولولو اقدام کړی، او په دې ډول د دوی له خپلو نظامي ځواکونو څخه بهر هیڅ کس ته د وسلې ګرځولو اجازه نه ورکوي. پر همدې بنسټ، په دومره زیاته او پراخه کچه هدفي او محاکمې پرته وژنې د نورو افرادو له خوا ممکنې نه دي. سره له دې، هیڅ توجیه او حتا «نا معلومو وسله والو» ته د دا ډول وژنو منسوبول پر افغانستان د حاکمې ډلې په توګه د خلکو د امنیت او مصئونیت په برخه کې د طالبانو حقوقي مسؤلیت له منځه نه وړي.

## الف: د مخکني حکومت د کارکوونکو هدفي وژنې

له هغو کسانو څخه چې د ۲۰۲۳ کال په بهیر کې په هدفي ډول او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپیان شوي، ۸۳ تنه یې د مخکني حکومت ملکي او نظامي کارکوونکي دي چې په دې کې ۸۲ تنه وژل شوي او ۱ تن ټپي شوی دی. دا قربانیان ٦٨ تنه نظامیان او ۱۴ تنه نور د مخکني حکومت د ملکي برخو کارکوونکي دي.




په تېرو نږدې دري کلونو کې د طالبانو له خوا د مخکني حکومت د کارکوونکو د هدفي او له محاکمې پرته وژنو په اړه ډېر شمېر راپورونه خپاره شوي چې د اندېښنو څپې او بین المللي درېځ نیونې یې له ځان سره درلودې؛ خو دې مطبوعاتي درېځ نیونو تر اوسه د مخکني حکومت د کارکوونکو او د هغوی د کورنیو د مصئونیت لپاره هیڅ مثبته پایله نه ده درلودلې. لکه څنګه چې د دې راپور له موندنو سره سم، طالبانو له هر ډول ځواب وینې پرته، او البته د طریقو او تاکتیک په بدلولو سره د مخکني حکومت له کارکوونکو څخه مرګوني غچ اخستنې ته دوام ورکړی دی.

داسې موارد هم شته چې طالبان او په ځانګړي ډول د استخباراتو اداره یې د مخکني حکومت کارکوونکي وژني او وروسته اعلان کوي چې دا کسان په داعش ډلې پورې تړلي ؤ، او یا دا چې ځان وژنه یې کړې ده. اړوندې پېښې یې د رواداري د لومړیو شپږو میاشتو په راپور کې هم راغلې دي.[۵]

د ۲۰۲۳ کال د سپتامبر پر ۱۰مه، په تخار ولایت کې د مخکني حکومت د ولسي پاځون د ځواکونو یو سیمه ییز قوماندان په ډزو ووژل شو. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې یاد شخص د طالبانو د استخباراتو د ځواکونو له خوا وژل شوی دی. همدا راز، د ۲۰۲۳ د اګست پر ۱٦مه نېټه د دې ولایت په ورته یوه پېښه کې د مخکني حکومت اړوند د سیمه ییزو پولیسو یو تن قوماندان ووژل شو. قرباني ته نږدې سرچینو ویلي چې د طالبانو یو سیمه ییز قوماندان د دې کس د وژنې عامل دی.

د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۱٦مه نېټه د مخکني حکومت یو کارکوونکی له خپلې خور سره یوځای ووژل شول، چې له کابل څخه جلال آباد ته د یوې مېلمستیا لپاره ته تللي وه. د دې شخص د کورنۍ له غړو او نږدې کسانو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، هغوی سخت شکنجه شوي او وروسته وژل شي دي.

همد راز، د ۲۰۲۳ کال په اګست میاشت کې یو پخوانی پولیس د پکتیکا ولایت په مرکز کې د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو. ترلاسه شوي شواهد ښیي چې دا کس د طالبانو د یو سیمه ییز مسئول له خوا وژل شوی دی. په همدې ترتیب، د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۲۷مه، د مخکني حکومت د ولسي پاځون د ځواکونو یو غړی د دایکندي ولایت په «پاتو» ولسوالۍ کې د «نامعلومو وسله والو» له خوا په ډزو ووژل شو. د قرباني ورور هم د مخکني حکومت د ملي پاځون د ځواکونو غړی و او تل یې له سیمه ییزو طالبانو سره په دې ولسوالۍ کې ستونزه درلوده.

د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۲۱مه د میدان وردګ ولایت د امنیه قوماندانۍ یو مخکنی کارمند د کابل ښار په پنځمه ناحیه کې وتښتول شو او دوه ورځې وروسته یې جسد د میدان وردګ ولایت د میدان ښار په اړونده سیمه کې وموندل شو. یو عیني شاهد چې د قرباني جسد یې له نږدې کتلی، رواداري ته وویل چې د قرباني پر بدن یې د شکنجې او سوځېدلو نښې لیدلې دي.

د تېرو نږدې درې کلونو په بهیر کې د مخکني حکومت د پام وړ ملکي او نظامي کارکوونکي په هدفي ډول وژل شوي دي. طالبان دا مهال حتا د هغوی له کورنۍ او نږدې کسانو څخه غچ اخلي. مثلاً د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۲۵مه یو ۱۳ کلن هلک چې د بدخشان ولایت د شهدا ولسوالۍ اوسېدونکی دی د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو. د دې ماشوم پلار په مخکني حکومت کې د ولسي پاځون د ځواکونو غړی و چې شاوخوا دوه کاله د طالبانو د حاکمیت په لومړیو میاشتو کې د خپلو زراعتي ځمکو د خروبولو پر مهال، د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو. همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۲۸مه، په بامیان ولایت کې یو اته کلن هلک و تښتول شو او یوه اونۍ وروسته یې مړی د دې ولایت د مرکز د بازار تر شا وموندل شو. د دې ماشوم مور د مخکني ملي پولیسو غړې وه.

## ب: له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د ملکي وګړو وژنه

ترلاسه شوي شواهد ښیي چې طالبانو په ۲۰۲۳ کال کې کم تر کمه ۲۱ تنه ملکي هیوادوال په مخالفو ډلو کې د غړیتوب او ورسره د همکارۍ په تور وژلي دي. د قربانیانو تور له «ملي مقاومت جبهې» او نورو مخالفو ډلو سره تړلتیا وه. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۴مه، طالبانو د بدخشان ولایت د «ارغنج خواه» ولسوالۍ یو اوسېدونکی له «ملي مقاومت جبهې» سره د همکارۍ په تور وواژه. قرباني ته نږدې سرچینو ویلي چې هغه د مخکني حکومت د امنیتي او دفاعي ځواکونو غړی و او له «ملي مقاومت جبهې» سره د همکارۍ په تور د طالبانو له خوا په ډزو ووژل شو.



**۲۱** تنه ملکي هیوادوال په مخالفو ډلو کې د غړیتوب او ورسره د همکارۍ په تور وژلي دي.

[۵] رواداري، د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو د وضعیت رپوټ، ۲۰۲۳ اګست. https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf

په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۳ کال د اگست پر ۲۲مه طالبانو یو نفر په هرات ولایت کې له «ملي مقاومت جبهې» سره د اړیکو په تور وواژه. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، دا کس له ایران څخه د وېزې د تمدید لپاره هرات ته تللی و چې طالبانو یې په کمپیوټر کې د «احمد شاه مسعود او احمد مسعود» عکسونه موندل او بیا یې هغه وواژه.

## ج: د نورو ملکي هیوادوالو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

د شته شمېرو مطابق، د ۲۰۲۳ کال په بهیر کې کم تر کمه ۳۲۴ تنه ملکي وګړي د هیواد په بېلابېلو برخو کې په مرموز ډول د طالبانو او «نامعلومو وسله والو» له خوا په ډزو وژل شوي او ټپیان شوي دي. په دې کې ۲۶۲ تنه چې ۲۱٦ تنه نارینه، ۳۵ ښځینه او ۱۱ ماشومان دي وژل شوي او د ٦۲ په شمېر نور چې ۵۸ نارینه، ۲ ښځینه او ۲ ماشومان دي ټپیان شوي دي. قومي مشران، دیني عالمان او د مخکني حکومت سیمه ییز ملاتړي، ټولنیز او فرهنګي فعالان او سوداګر د دې پېښو قربانیان دي.




د ملکي خلکو د وژنو ډېره برخه د نامعلومو وسله والو له خوا ترسره شوي چې تر اوسه طالبانو د هغوی د پیدا کولو او نیولو لپاره هیڅ اغېزناک اقدام نه دی کړی او نه یې د دې کسانو د هویت اړوند راپور او معلومات وړاندې کړي دي. ترلاسه شوي شواهد ښیي چې طالبان حتا د دې ډول پېښو اړوند اطلاعات پټ ساتلي  او لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، د قربانیانو کورنۍ یې ګواښلې دي چې د بشری حقونو بنسټونو او رسنیو سره له هر ډول معلوماتو شریکولو څخه ډډه وکړي. سره له دې د قربانیانو کورنۍ او نږدې کسان یې باور لري چې د دې وژنو عاملان پخپله طالبان دي. د بېلګې په توګه، د طالبانو د اسلامي امارت سیمه ییزو مسئولینو د ۲۰۲۳ کال په نوامبر او ډسامبر میاشتو کې په هرات ولایت کې د ۴ تنو شیعه عالمانو ترور، د یو پخواني جهادي قوماندان وژنه او څو نورو موارد د نا معلومو وسله والو کار بللی و او ویلي یې و چې د دې پېښو مرتکبین به ونیسي؛ خو د سیمې خلک وایي چې د طالبانو د استخباراتو اداره د یادو افرادو په وژلو کې نقش لري.

## اجباري تري تم کول

د ۲۰۲۳ کال په بهیر کې کم تر کمه ۳۰ تنه د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنۍ غړي، د طالبانو مخالفو ډلو سره په همکارۍ تورن کسان، د بشر حقونو فعالان او نور ملکي وګړي د طالبانو له خوا له نیول کېدو وروسته تري تم شوي، ترلاسه شویو معلوماتو ته پام سره کیدای شي چې د اجباري تري تم کولو مصداق وي. د بشر حقونو له بین المللي اسنادو سره سم د دولت د مامورینو یا اشخاصو او ډلو په مټ اجباري تري تم کول د دولت په اجازه، ملاتړ، رضا او نه مخالفت سره د نیولو، توقیف او یا اختطاف په بڼه ترسره کېږي او ورپسې د نیول کېدو له اعلان او د قربانیانو د ځای ځایګي په اړه له معلوماتو ورکولو ډډه کیږي.[٦] د بشر حقونو بین المللي اسنادو اجباري تري تم کول د بشر حقونو تر ټولو سخت نقض ګڼلی او د بشریت پر ضد د جنایت د مصداق په توګه یې په رسمیت پېژندلی دي.[۷]

٦ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د اجباري تري تم کولو پر وړاندې د ټولو وګړو د ملاتړ بین المللي کنوانسیون، د ۲۰۱۰ کال تصویب شوی، ۲مه ماده، د بین المللي جزایي محکمې اساسنامه، د ۱۹۹۸ کال تصویب شوې، ۷مه ماده، (۲)، (i).

۷ هماغه سرچینه، ۷مه ماده، (۱)، (i).

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، قربانیان د مخکني حکومت کارکوونکي، د طالبانو مخالفان او نور ملکي وګړي دي چې د طالبانو له خوا نیول شوي او تري تم شوي دي. د قربانیانو له خپلوانو او نږدې کسانو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، طالبانو دا کسان نیولي او د هغوی د برخلیک او د پتولو د ځای په اړه یې له هر ډول معلوماتو ورکولو ډډه کړې. **د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال په سپټامبر کې د مخکني حکومت د ملي پولیسو یو سرتېری د طالبانو له خوا ونیول شو او نامعلوم ځای ته ولېږدول شو. د قرباني کورنۍ ویلي چې په تېرو میاشتو کې یې څو ځلې د طالبانو سیمه ییزو ادارو ته مراجعه کړې خو تر اوسه یې د هغه د برخلیک په اړه هیڅ معلومات نه دي ترلاسه کړي او نه پوهیږي چې هغه ژوندی دی که نه.**

همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د فبرورۍ پر ۲۸مه د طالبانو د استخباراتو اداري د تخار ولایت یو اوسېدونکی په فیسبوک کې د یو انتقادي پوست په خپرولو نیولی چې له هغه وخته تر اوسه یې د برخلیک په اړه هیڅ معلومات نشته.

په یوه بله پېښه کې، د بدخشان ولایت د شهدا ولسوالۍ د یو اوسېدونکي جسد چې دوه کاله مخکې تری تم شوی و کورنۍ ته یې وسپارل شو. د قرباني ورور ویلي چې طالبانو هغه دوه کاله مخکې نیولی و او په دې وروستیو کې یې مړی دوی ته وسپاره. د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۷مه د مخکني حکومت یو کارکوونکی په پنجشیر ولایت کې د طالبانو له خوا ونیول شو او نامعلوم ځای ته یوړل شو، چې له هغې وخته تر اوسه یې د برخلیک په اړه هیڅ معلومات نشته. سربېره پر دې، د بدخشان ولایت یو اوسېدونکی له «ملي مقاومت جبهې» سره د اړیکو په تور د طالبانو له خوا وتښتول شو او تر اوسه یې د ساتنې د ځای او برخلیک په اړه هیڅ معلومات نشته.

داچې طالبان اطلاعاتو ته پر لاسرسي سخت محدودیتونه لګولي او په ځانګړې ډول د اجباري تري تم کولو د قضیو اړوند د هر ډول معلوماتو د خپرولو مخنیوی کوي. پر همدې بنسټ، رواداري تاکید کوي چې په افغانستان کې د اجباري تري تم کولو د پېښو شمېر کېدای شي له هغو شمېرو ډېر زیات وي چې په دې راپور کې مطرح شوي دي.

## د افرادو خپلسري او غیر قانوني نیوني

د دې راپور موندنو ښودلې چې د ۲۰۲۳ کال کې په ۲۲ ولایتونو[۸] کې د ۵۵ ښځو په ګډون کم تر کمه ۶۲۳ تنه په خپلسري او غیر قانوني ډول د طالبانو له خوا نیول شوي دي. نیول شوي کسان د مخکني حکومت ملکي او نظامي کارکوونکي، د مخکني «ولسي پاڅون» د ځواکونو غړي، د بشر حقونو فعالان، خبریالان، دیني علما، قومي مشران، سوداګر او د طالبانو مخالفین او منتقدین دي.



Photo (C) BULENT KILIC/AFP via Getty Images. Amnesty International website

۸ کابل، پنجشیر، پروان، هرات، نیمروز، بامیان، بغلان، بدخشان، تخار، دایکندي، غزني، غور، ارزګان، قندهار، زابل، کندوز، فاریاب، بلخ، جوزجان، سرپل، ننګرهار او خوست.

په داسې حال کې چې د بشر حقونو بین المللي اسناد د آزادۍ او شخصي امنیت حق تضمین کړی او د افرادو د خپلسرو او غیر قانوني نیونو پر ممنوعیت یې تاکید کړی دي.[۹] خو طالبانو قانوني موازینو ته له اعتنا او د صالحو مراجعو له جواز پرته په خپلسري او غیر قانوني ډول په پراخه کچه د مخکني حکومت کارکوونکي او نور ملکي هیوادوال نیولي دي.

د رواداري د ځېرنو موندنې ښیي چې غچ اخستنه، د بشر حقونو د فعالانو او د طالبانو د مخالفینو او منتقدینو ځپل، د مخه نیوونکو حقوقي میکانیزمونو نشتوالی، د بشر حقونو موازینو او د عادلانه محاکمې اصولو ته د طالبانو غاړه نه ایښودل، د طالبانو تر کنټرول لاندې د لوړې او ټیټې کچې ادارو کې پراخ فساد او بې نظمي د افرادو د خپلسرو او غیر قانوني نیونو تر ټولو مهم لاملونه دي.

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د استخباراتو اداري برسیره، پولیس او محکمې هم د نیولو له لومړنیو اصولو او تشریفاتو رعایتولو پرته خلک نیسي او بندیانوي، نورې غیر مسئولې ادراې او حتا د طالبانو عادي سرتیري هم د افرادو په نیولو او توقیفولو کې نقش لري. له پولیسو او د استخباراتو له ادارو ور هاخوا، د امر بالمعروف اداري کارکوونکي، شاروالۍ، والیان، ولسوالان او د نورو ملکي برخو مسئولین هم خلک نیسي او توقیفوي یې او د طالبانو هر سیمه ییز مسئول چې دغه کسان نیسي، صلاحیت لري چې د دې افرادو د توقیف د مودې په ټاکلو، د تحقیق ډول او جزا اړوند تصمیم ونیسي.

## د مخکني حکومت د کارکوونکي غیر قانوني نیونې

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، له ټولو هغو افرادو څخه چې د طالبانو له خوا په خپلسري او غیر قانوني ډول نیول شوي، کم تر کمه ۱۱۸ تنه یې د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي دي. له دوی څخه د ۹۱ په شمېر نظامیان، ٦ تنه د مخکني حکومت د ملکي برخې کارکوونکي او ۲۱ تنه نور د هغوی خپلوان او نږدې کسان د طالبانو له خوا نیول شوي او بندیان شوي دي.




دا چې طالبان بندیان په دې شرط او ژمنه خوشې کوي چې معلومات به نه افشا کوي او له بل پلوه دا مهال هیڅ حقوق بشري بنسټ د طالبانو تر کنټرول لاندې زندانونو د څارنې او د بندیانو دوسیو ته د لاسرسي امکان نه لري؛ نو ممکن د غیر قانوني او خپلسرو نیونو واقعي شمېرې له هغو شمېرو ډېرې زیاتې وي چې په دې راپور کې راغلې دي.

پر افغانستان د طالبانو له دوو کلونو زیاته موده کې او د ستونزو او ګواښونو له امله، زرګونه هغه کسان چې د مخکني حکومت په نظامي او ملکي برخو کې یې کار کاوه له هیواده تبنتېدلي دي. هغه افراد چې په هر دلیل نه دي توانیدلي وتښتي او یا یې افغانستان کې پاتې کېدو ته ترجیح ورکړې لا هم له ډول ډول زورونو، نیونو، شکنجو او حتا د وژل کېدو له خطر سره مخ دي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د جولای

۹ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۹مه ماده، د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی، ۱ بند، ۹مه ماده.

په میاشت کې طالبانو د کندهار ولایت په «سپین بولدک» ولسوالۍ کې یو مخکنی نظامي ونیو، دې شخص امنیتي اندېښنو ته په پام سره او د خپل ځان او کورنۍ د ساتنې په موخه بلې ولسوالۍ ته کډه کړې وه چې د طالبانو د استخباراتو له خوا په نښه او ونیول شو. طالبانو د دې شخص کورنۍ ته ویلي چې هغه د ځمکې پر سر په یوه حقوقي دعوه کې نیول شوی؛ خو کورنۍ یې د دې ادعا په ردولو سره وایي چې د نیولو علت یې په مخکني حکومت کې کار کول دي.

سربېره پر دې، د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۱۱مه طالبانو د مخکني حکومت د ځانګړو ځواکونو یو غړی په تخار ولایت کې ونیو. قرباني ته نږدې یوې سرچینې معلومات ورکړي چې دې شخص د جمهوریت له سقوط وروسته په پټه په کابل کې ژوند کاوه چې په وروستیو کې د طالبانو د یو قومندان په ضمانت په تخار ولایت کې خپل کور ته ور ګرځېدلی و؛ خو د دې ډلې د استخباراتو له خوا نیول شوی او نامعلوم ځای ته وړل شوی.

طالبانو حتا د مخکنیو نظامیانو خپلوان او نږدې کسان هم نیولي او بندیان کړي دي. لکه د ۲۰۲۳ کال د اپرېل پر ۱۴مه طالبانو د پنجشېر ولایت اوسېدونکی یو ۱۷ کلن ماشوم په دې دلیل چې د پلار د پټېدو ځای یې نه و ورښودلی، ونیو. په یوه بله پېښه کې طالبانو د ۲۰۲۳ کال د فبرورۍ پر ۲مه نېټه یو ملکي وګړی له دې امله چې زوی یې په مخکني حکومت کې د امنیتي ځواکونو په لیکو کې دنده ترسره کړې، ونیو. د دې شخص زوی د جمهوریت له سقوط سره یو ګاونډي هیواد ته تښتېدلی ؤ.

## د مدني فعالانو، د بشر حقونو د مدافعانو او خبریالانو غیرقانوني نیوني



۹۰ تنه د بشر حقونو مدافعان، مدني فعالان او خبریالان په خپلسري او غیر قانوني ډول نیولي دي.

طالبانو په ۲۰۲۳ کال کې کم تر کمه ۹۰ تنه د بشر حقونو مدافعان، مدني فعالان او خبریالان د اعتراض، انتقاد او د «اسلامي امارت» پر ضد د تبلیغاتو په تور په خپلسري او غیر قانوني ډول نیولي دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۱۰مه نېټه په غزني ولایت کې د طالبانو د امر بالمعروف کارکوونکو یو خبریال ونیو او بندي یې کړ. د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ٦مه طالبانو په ننګرهار ولایت کې دوه تنه سیمه ییز خبریالان ونول او بندیان یې کړل. دوی بیا له ۲۰ ورځو زندان وروسته خوشې شول؛ خو د خپلو دندو پرېښودو ته اړ ایستل شول. طالبانو دې خبریالانو ته خبرداری ورکړی چې که پر «اسلامي امارت» نیوکه وکړي لا سخته سزا به ووینې.

د ۲۰۲۳ کال د سپتامبر پر ۲۹مه نېټه د طالبانو د استخباراتو اداري له اطلاعات و فرهنګ، امر بالمعروف او د معارف او لوړو زدکړو ریاستونو سره په همغږۍ په دایکندي ولایت کې یوه سیمه ییزه خصوصي رسنۍ بنده او درې خبریالان یې ونیول. پر دې رسنۍ دا تور لګول شوی چې د «آزادي راډیو» پروګرامونه خپروي او د طالبانو د سیمه ییز حکومت فعالیتونو ته پوښښ نه ورکوي. د طالبانو د لوړو زدکړو رئیس ویلي چې: «دوی څو ځلې دې رسنۍ ته خبرداری ورکړی و چې په ملي او سیمه ییزه کچه د اسلامي امارت فعالیتونه او پروګرامونه د خپلو خبري پروګرامونو برخه وګرځوي؛ خو د یادې رسنۍ مسئولینو د هغوی امر ته هیڅ پاملرنه ونکړه، او په همدې دلیل د استخباراتو ځواکونو یې دروازه ور وتړله او کارکوونکي یې ونیول.» د دې رسنۍ دوه خبریالان وروسته خوشې شول؛ خو مسئول مدیر یې د طالبانو د محکمې د حکم پر بنسټ په یو کال زندان محکوم شو. سربېره پر دې، د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۲۸مه په دې ولایت کې یو مدني فعال د یوناما دفتر له مسئول سره د لیدنې له امله ونیول شو. پر دې شخص تور و چې «یو بهرني شخص» سره یې ملاقات کړی.

داسې قضیې هم شته چې حتا د ټولنیزو شبکو کاروونکي پر طالبانو د نیوکې له امله نیول شوي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۲۰مه نېټه په هرات ولایت کې د پوهنتون یو استاد وروسته له هغې د طالبانو له خوا ونیول شو چې په ټولنیزو شبکو کې یې د ښځو پر وړاندې د طالبانو پر تبعیضي سیاست او په ځانګړي ډول د نجونو د زدکړو پر بندولو نیوکه کړې وه. په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۲مه په دې ولایت کې د اطلاعات و فرهنګ ریاست یو مخکنی کارکوونکی له جنسي اقلیتونو سره د طالبانو پر چلند د نیوکې له امله د طالبانو د استخباراتو د ځواکونو له خوا ونیول شو.

د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۲۱مه د طالبانو استخباراتو د بامیان ولایت د پوهنتون یو محصل ونیو چې په خپله وینا کې یې د طالبانو د اسلامي امارت پر سیاستونو او په ځانګړې ډول په دې ولایت کې د ناامنۍ او د خلکو د وژنو د زیاتېدو اړوند نیوکه کړې وه، دا محصل لا هم په زندان کې دی. په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۳ کال په جولای میاشت کې طالبانو په غزني ولایت کې یو سیمه ییز کمیډین د طنزي او انتقادي پروګرامونو د خپرولو له امله ونیو او بندي یې کړ.

یاد موارد ښیي چې طالبان پر خپلو سیاستونو هیڅ ډول اعتراض او انتقاد نه زغمي او په بېلابېلو طریقو له خپلو منتقدینو غچ اخلي.

**۱۲۴**

**تنه په «ملي مقاومت جبهه» کې د غړیتوب په تور په غیر قانوني توګه نیولي او بندیان کړي دي.**

## د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د خلکو خپلسرې نیونې

شته شمېرې ښیي چې طالبانو په ۲۰۲۳ کال کې کم تر کمه ۱۲۴ تنه په «ملي مقاومت جبهه» کې د غړیتوب په تور په غیر قانوني توګه نیولي او بندیان کړې دي. همدا راز، **د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۲۸مه طالبانو د یوې دینې مدرسې زده کوونکی چې له پنجشېر څخه کابل ته د پاسپورټ اخستلو لپاره تللی و، له «ملي مقاومت جبهې» سره د همکارۍ په تور ونیو او بندي یې کړ. د نیول شوي شخص کورنۍ وېلي چې هغه د طالبانو مخالفو ډلو سره هیڅ اړیکه نه لري. دوه کاله مخکې یې ورور په همدې تور د طالبانو له خوا په ډزو ووژل شو.**

داسې موارد هم شته چې طالبانو خپل مخالفین داعش ډلې سره د همکارۍ په تور نیولي او بندیان کړې دي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۳۰مه طالبانو په نیمروز ولایت کې د استوګنې پر یو کور هجوم وړو او خپل ۵ تنه مخالفین یې له داعش ډلې سره د همکارۍ په تور وډبول او ونیول. همدا راز، په یو شمېر ولایتونو کې د طالبانو د استخباراتو ځواکونو د «ملي مقاومت جبهې» د غړو خپلوان او نږدې کسان هم نیولي دي. لکه څنګه چې د۲۰۲۳ کال د اګست پر ۲۴مه طالبانو په بدخشان ولایت کې د ملي مقاومت جبهې د سیمه ییزو قوماندانانو د کورنۍ یو غړی ونیو. دا سیمه ییز قوماندان مخکې د طالبانو له خوا وژل شوی و. همدا راز، د ملي مقاومت جبهې د ځواکونو د ۵۲ په شمېر خپلوان چې د دې جبهې د څو وژل شویو کسانو په جنازه کې یې ګډون کړی و د طالبانو لخوا له ناوړه چلند سره مخ شول او د جنازې د مراسمو له ترسره کولو یې منعه کړل. یو شمېر دغه کسان د طالبانو له خوا نیول شوي او بندیان شوي هم دي.

له بل پلوه، د ترلاسه شویو معلوماتو او شواهدو پر بنسټ، طالبان خپل مخالفین جدا جدا په زندانونو کې ساتي او له هغوی سره ډېر سخت چلند کوي. د بېلګې په توګه، دغه اشخاص په سخت ډول شکنجه کیږي او ناوړه چلند ورسره کیږي او هم یې کورنیو ته د ملاقات اجازه نه ورکول کیږي.

**۲۹۱**

**تنه یې هغه کسان دي چې په بېلابېلو تورونو لاملونو نیولي او زنداني کړي دي**

## د خپلسرو او غیر قانوني نیونو نور موارد

د هغو ملکي وګړو له منځه چې د دغه راپور په دوره کې په غیر قانوني او خپلسرې ډول د طالبانو له خوا نیول شوي او بندیان شوي، ۲۹۱ تنه یې هغه کسان دي چې په بېلابېلو تورونو لکه د وسلې درلودل، په «حزب التحریر» کې غړیتوب، د امربالمعروف اداري له مقرراتو سرغړونه، لکه د ږیرې کمول او د ویښتو جوړول، د موسیقۍ اورېدل، د حجاب په اړه د دې اداري د اوامرو نه رعایت، د شرعي محرم نه درلودل او په نورو لاملونو نیولي او زنداني کړې دي. دا کسان ډېری د طالبانو د امربالمعروف اداري د کارکوونکو له خوا نیول شوي دي.

د بېلګې په توګه، **طالبانو د غزني ولایت په مالستان ولسوالۍ کې ٦ تنه سیمه ییز مشران د ارزګان ولایت د اوسېدونکو د ملاتړ له امله چې څو کاله مخکې د مخکني دولت او طالبانو د جګړې له امله بې ځایه شوي ؤ، ونیول او بندیان یې کړل. پر نیول شویو کسانو تور دا و چې بې ځایه شویو ته یې سرپناه، اوبه او خواړه برابرول. همدا راز، د ۲۰۲۳ کال د سپتامبر میاشت په اوږدو کې د طالبانو د امر بالمعروف ځواکونو د دایکندي ولایت په «کیتي» ولسوالۍ کې ۱۸ تنه ځوانان د ږیرې د خریلو په تور د هوټل په یوه خونه کې د دوو شپو ورځو لپاره بندیان کړل چې هغوی بیا د ۲۵۰۰ افغانیو جریمې له پرې کولو وروسته خوشې شول.**

# د انساني کرامت د حق نقض

**د انساني کرامت حق د افرادو ذاتي او نه سلبېدونکی حق دی چې د بشر حقونو د نړیوالې اعلامیې په ګډون د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې له قید و شرط پرته په رسمیت پېژندل شوی دی.[۱۰] په دې اسنادو کې د راغلیو مقرراتو پر بنسټ هیڅوک تر هیڅ شرایطو لاندې باید شکنجه نشي، و نه ځورول شي او ظالمانه او غیر انساني مجازاتو او ناوړه چلند سره مخامخ نشي.[۱۱] سره له دې، ترلاسه شوي شواهد او مدارک ښیي چې طالبانو په پراخه توګه بندیان شکنجه کړي او ناوړه چلند یې ورسره کړی او هم یې ډېری کسان د عادلانه محاکمې اصولو ته له پاملرنې پرته په بې رحمانه ډول مجازات کړي دي.**

## بندیانو سره ناوړه چلند او شکنجه

دا چې رواداري زندانونو او د آزادۍ د سلب ځایونو ته لاسرسی نه لري او له بل پلوه طالبانو اطلاعاتو ته پر لاسرسي سخت محدودیتونه وضعه کړي دي؛ پر همدې بنسټ ممکنه نه ده چې د شکنجې او ناوړه چلند دقیقې شمېرې وړاندې کړو؛ خو د رواداري څارونکو په ۲۰۲۳ کال کې له ډېر شمېر مدافع وکیلانو او د شکنجو له قربانیانو سره مرکې کړې دي چې ښیي ډېری نیول شوي کسان کم تر کمه یو ځل د طالبانو له خوا شکنجه شوي او ناوړه چلند ورسره شوی. **د دې راپور موندنو ښودلې چې تر ټولو ډېره شکنجه د استخباراتو ادارې په نظارت خونو کې ترسره کېږي او تر ټولو سخته شکنجه د طالبانو له مخالفینو سره پر همکارۍ مظنونو کسانو ته ورکول کېږي.**

د طالبانو له خوا د شکنجې د جرم ارتکاب ډېر لاملونه لري چې په دې کې تر ټولو مهم لامل یې د داسې حقوقي میکانیزم نشتوالی دی چې له هیوادوالو څخه د ربړوونکو چلندونو پر وړاندې ملاتړ وکړي او د مرتکبانو د قانوني تعقیب امکان برابر کړي. پر همدې دلیل، دا مهال د شکنجې یا ربړونې عاملان او مرتکبین له ځواب وینې او حقوقي تعقیب څخه د مصئونیت له احساس سره د لا نورې شکنجې او ناوړه چلند مرتکب کېږي. د رواداري موندنې ښیي چې شکنجه د طالبانو په حکومت کې له تورنو څخه د اقرار او اعتراف د اخستلو د وسیلې په توګه کارول کېږي. لکه څنګه چې قربانیانو رواداري سره په مرکو کې ویلي چې طالبانو هغوی د اعتراف او اقرار د اخستلو په موخه په بېلابېلو طریقو شکنجه[۱۲] کړي دي.

د ۲۰۲۳ کال د سپتامبر پر ۲۸مه طالبانو د غزني ولایت په «ناوور» ولسوالۍ کې یو ډاکټر د وسلې درلودلو او مخکني حکومت سره د همکارۍ په تور ونیو او بندي یې کړ. طالبانو هغه سخت شکنجه کړی او حتا د بدن غوښې یې ترې شکولې دي. همدا راز، د ۲۰۲۳ کال په جولای میاشت کې د میدان وردګ ولایت یو اوسېدونکی د غلا په تور د طالبانو له خوا نیول شوی و. هغه وایي چې د طالبانو په بند کې یې شپږ میاشتې تېرې کړې دي او په دې موده کې سخت ربړول شوی دی. دا شخص د غلا په تور نیول شوی و چې شپږ میاشتې وروسته د محکمې له خوا بې ګناه وپېژندل شو او له زندانه خوشې شو.

له پنجشېر ولایت څخه یو بل قرباني ویلي چې: **«طالبان له بېلابېلو طریقو په استفادې خلک شکنجه کوي. په اوبو ساه بندول د طالبانو په زندانونو کې د شکنجې یوه تر ټولو معموله طریقه ده، داسې چې په اوبو لوند شوی دستمال د قرباني پر خوله ږدي او بیا د شلو دقیقو لپاره ګرمې یا یخې اوبه پر دستمال اړوي، دا کار د لنډې مودې ساه بندول رامنځته کوي او د قرباني د سخت**

۱۰ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، په ۱۹۷۸ کال کې تصویب شوې، مقدمه او ۱ ماده.

۱۱ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۷مه ماده. د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د شکنجې، ظالمانه او غیر انساني او سپکوونکو چلندونو د مخنیوي بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۸۴ کال تصویب شوی، ۱ ماده.

۱۲ د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو د وضعیت رپوټ، ۲۰۲۳ اګست: RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf/08/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023

عذاب سبب کیږي، طالبان تر هغه وخته دې کار ته دوام ورکوي چې قرباني اعتراف وکړي او د هغوی د خوښې معلومات پر ژبه راوړي. په پلاستیکي خلتو ساه بندول بله د شکنجې طریقه ده، طالبان د قرباني سر په پلاستیکي خلته کې پوښي او کلک يې بندوي چې اکسیجن له منځه لاړ شي او قرباني بې هوښه شي، دا کار د اقرار او اعتراف تر اخستو پورې دوام کوي. بله طریقه، «چپه ولچک» کول دي، دا شکنجه په ډېرې کمې انضباطي تېروتنې ورکول کیږي، داسې چې د قرباني لاسونه له اوږې او د تخرګ لاندې څخه تر شا ولچک کوي او قرباني د عضلاتو د شخېدو له امله ضعف کیږي او يا يې لاسونه او مټ شلیږي. د قربانیانو د شکنجه کولو لپاره نورې طریقې هم شته، لکه په ولچک کې ځوړندول، دا طریقه داسې ده چې قربانیان په وسپنیزو ولچکونو په پنجرې يا د اوبو په نل پورې داسې تړي او ځوړندوي چې څو ساعتې يې پښې له ځمکې پورته وي او دې کار ته تر هغې دوام ورکوي چې قرباني بې هوښه شي. بله طریقه، په یخو اوبو شکنجه کول دي. مثلاً د قربانیانو بدن په سړو اوبو لمدوي او بیا يې یوې خونې ته چې هوا يې په کولر سړه یخه شوې وي وړي.»

دا چې طالبانو قربانیان او د هغوی کورنۍ ګواښلې دي چې حقوق بشري بنسټونو او رسنیو ته د هر ډول نظر څرګندولو او معلوماتو ورکولو څخه ډډه وکړي. پر همدې بنسټ، يو شمېر يې مرکې ته حاضر نه شول او وېرېدل چې د هغه څه په اړه خبرې وکړي چې د طالبانو په زندانونو کې ورباندې تېر شوي دي.

## د بندیانو وژل

رواداري داسې معتبر شواهد او مدارک ترلاسه کړي چې ښيي يو شمېر نیول شوي کسان د سختې شکنجې په پایله کې د طالبانو له خوا په زندانونو کې وژل شوي دي. په تېر يو کال کې رواداري بنسټ توانېدلی چې کم تر کمه ١٦ د شکنجې پېښې چې د بندیانو په قتل تمامې شوې دي، مستندې کړي. ملکي وګړي په قربانیانو کې شامل دي چې په بېلابېلو تورونو نیول شوي، شکنجه شوي او وروسته وژل شوي دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د مې پر ٦مه طالبانو يو قومي مشر د بغلان ولایت په نهرین ولسوالۍ کې ونیو، د دې شخص يو خپلوان رواداري ته ویلي چې: «موږ څو ځلي هڅه وکړه چې هغه د طالبانو له بنده آزاد کړو. خو وروسته له څو ورځو يې خبر راکړ چې هغه د طالبانو د شکنجې لاندې وژل شوی دی.» د ۲۰۲۳ کال د مارچ پر ۲۳مه د بغلان ولایت په «تاله و برفک» ولسوالۍ کې د ښوونځي يو ښوونکی د طالبانو له خوا ونیول شو، د دې شخص خپلوان بیا بیا د هغه لیدو ته ورغلل خو طالبانو د ملاقات اجازه ورنکړه او له څو ورځو وروسته يې مړی پلخمري ښار کې وغورځاوه.

يو نیم کال مخکې، طالبانو يو ځوان په خواله رسنۍ کې د مقاومت جبهې د اړوندو تصویرونو د خپرولو په تور ونیو او بندي يې کړ چې د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر پر ١٧مه د سختو شکنجو په پایله کې په پلچرخي زندان کې ووژل شو او بیا يې طالبانو مړی کورنۍ ته وسپاره. طالبانو د دې پېښې علت روغتیايي ستونزې وښودلې؛ خو د قرباني کورنۍ ویلي چې هغه هیڅ ډول روغتیايي ستونزه نه درلوده بلکې د طالبانو د شکنجو له امله وژل شوی دی؛ ځکه د قرباني پر بدن د سختو شکنجو نښې موجودې وې.

## د ظالمانه او غیر انساني سزاګانو پلي کول

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، په ۲۰۲۳ کال کې د طالبانو محکمو کم تر کمه ۹۴۲ تنه په ۸ ولایتونو کې په عام محضر کې په دُرو وهلي او هم يې په بامیان ولایت کې د دوو تنو د سنګسار حکم ورکړی دی. د دا ډول مجازاتو د تطبیق ډېر موارد شته، په ځانګړې ډول په تعزیري جرایمو کې، چې طالبان هغه نه ښکاره کوي او راپور يې نه ورکوي.[١٣]

د دې راپور موندنې ښيي چې طالبانو په ډېرې مواردو کې د حدودو پر جرایمو تورن کسان له نیول کېدو سره سم له هیڅ ډول تحقیق او د جرم د اثبات د دلایلو له راټولولو پرته په دُرو وهلي. لکه څنګه چې د کره معلوماتو پر بنسټ چې د رواداري په واک کې ورکړل شوي د ۲۰۲۳ کال په بهیر کې یواځې په کندهار ولایت کې د ۷۸۸ په شمېر کسان او په ارزګان ولایت کې د ١٣ ښځو په ګډون د ۸۵ په شمېر کسان په بېلابېلو تورونو په علني او غیر علني توګه په دُرو وهلي دي.

١٣ طالبان د حدودو په جرایمو کې د دُرو وهلو او نورو بدني مجازاتو ډولونه په علني توګه تطبیقوي او اعلانوي يې؛ خو تعزیري سزاګانې معمولاً په غیر علني توګه اجرا کوي..

د ۲۰۲۳ کال په نوامبر میاشت کې طالبانو د خوست ولایت یو اوسېدونکي سره له نیول کېدو وروسته ناوړه چلند وکړ او د هغه د سر وېښته یې قیچي کړل، په داسې حال کې چې یاد شخص هیڅ جرم نه و کړی. همدا راز، رواداري په هلمند ولایت کې داسې موارد مستند کړي چې ښیي طالبانو د غلا مظنونان له نیول کېدو سره سم په زیات تګ راتګ درلودونکو ښارونو او کلیو کې ننداري ته وړاندې کړي چې د دوی په وینا د نورو لپاره عبرت شي.

په هغو شرایطو کې چې طالبانو ټول مخکني قوانین لغوه کړي دي، او محکمې یې له اسلام څخه د سختو فقهي برداشتونو پر بنسټ او په ځینو مواردو کې د خپل رهبر د فرمانونو پر بنسټ، جزایي قضیو ته رسیدګي کوي. له بل پلوه، د طالبانو مطلق اکثریت قاضیان غیر مسلکي اشخاص او د دیني مدرسو فارغان دي چې له عصري قوانینو او د عادلانه محاکمې څارونکو اصولو سره ډېره کمه بلدتیا لري، د دا ډول سزاګانو پلي کول د انساني کرامت صریح نقض او د بې رحمانه سزاګانو مصداق کېدلی شي.

## د سوله ییزو راټولېدنو ځپل او د لاریون کوونکو نیول

د دې راپور له موندنو سره سم په ۲۰۲۳ کال کې د ۲۰۲۲ کال په پرتله کمې اعتراضي غونډې جوړې شوې دي. ډېری دغه غونډې او پروګرامونه چې د طالبانو د تبعیضي سیاستونو او په ځانګړي ډول د ښځو پر وړاندې د محدودیتونو د سختېدو په غبرګون کې ترتیب شوي ؤ، په سرپټو ځایونو کې ترسره شول.


په افغانستان کې د علني اعتراضي راټولېدنو او د عدالت غوښتنې د نورو پروګرامونو د کمېدو یو تر ټولو مهم علت د طالبانو له خوا د وېرې او ډار فضا رامنځته کول دي. ځکه په تېرو نږدې دوو کلونو کې وروسته له هغې چې طالبانو په تدریج سره د افغانستان ښځې له ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او علمي برخو څخه حذف کړې د ښځو د حقونو د فعالانو له خوا د هیواد په ځینو برخو کې ډېر شمېر لاریونونه ترسره شول؛ خو طالبانو په ټول تاوتریخوالي سره دغه لاریونونه او د عدالت غوښتنې پروګرامونه وځپل. هغوی لاریون کوونکي ونیول، شکنجه یې کړل او حتا یو شمېر لاریون کوونکو ښځو باندې یې جنسي تیري وکړ او یو شمېر یې ووژلې.[14] پر همدې دلیل لسګونه هغه ښځې او نارینه چې د عدالت غوښتنې د دې هڅو ترتیب او مدیریت کې یې نقش درلود افغانستان یې پرېښود او نږدې او لیرې هیوادونو ته یې پناه یوړه. د همدې له مخې، اوس ډېر کم خلک جرات کوي چې د طالبانو پر تبعیضي سیاستونو نیوکه وکړي او خپل مخالفت بیان کړي.

**د ۲۰۲۳ کال د سپتامبر پر ۱۹مه طالبانو یوه لاریون کوونکې ښځه او د هغې مېړه د عدالت غوښتنې د فعالیتونو او لاریونونو له امله ونیول او بندیان یې کړل. سربېره پر دې، د سپتامبر پر ۲۷مه د طالبانو د استخباراتو اداري یوه لاریون کوونکې ښځه په کابل کې ونیوله چې د طالبانو پر ضد یې په اعتراضي راټولېدنو او لاریونونو کې نقش درلود. دا لاریون کوونکې درې میاشتې وروسته د طالبانو له بنده خوشې شول. د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۱۹مه یو شمېر ښځو په کابل ښار کې د ښځینه سینګارتونونو د بندولو په اعتراض کې سوله ییز لاریون وکړ چې په تاوتریخوالي سره د طالبانو له خوا وځپل شو.**

په کندهار او زابل ولایتونو کې هم طالبانو د خلکو درې سوله ییز لاریونونه د ۲۰۲۳ کال په جولای، اکتوبر او نوامبر میاشتو کې په تاوتریخوالي سره وځپل او ډېری لاریون کوونکي یې ووهل. په دوی کې یو لاریون کوونکی په کندهار ولایت کې د طالبانو له خوا د مرمۍ په ډزو ووژل شو.

واقعیت دا دی چې د سوله ییزو مدني مبارزو او لاریونونو له لارې د هیوادوالو د بشري حقونو غوښتنو تعقیب او څرګندول دا مهال په یو سخت او ناممکن کار بدل شوی؛ ځکه طالبانو ښودلې چې له تاوتریخوالې له ډکې هرې ممکنې لارې څخه په استفادې او د خپل چلند له حقوقي پایلو څخه له هر ډول وېرې پرته د هیوادوالو د اعتراضي او حق غوښتونکو غږونو پراخې ځپنې ته دوام ورکولی شي.

۱۴ رواداري، پر شاتګ او ځپل، ۲۰۲۲ ډسامبر. https://rawadari.org/10122022251.htm/



عکس: سهراب عمر

دویمه برخه

# د ښځو د بشري حقونو وضعیت

# دویمه برخه - د ښځو د بشري حقونو وضعیت

**طالبانو پر افغانستان له بیا واکمنېدو راهیسې له ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي برخو ځخه د ښځو د حذفولو لپاره هدفي او سازمان شوي اقدامات ترسره کړي او نړدې په تېرو درې کلونو کې د بشر حقونو بین المللي اسنادو ته د درناوي په برخه کې خپلو قانوني ژمنو ته له هر ډول پاملرنې پرته یې د افغانستان ښځې او نجونې د زده کړې، کار او په عمومي چارو کې د ګډون او آزاد تګ راتګ د حقونو په ګډون له بنسټیزو حقونو او بشري آزادیو محرومې کړې دي.**

په دې موده کې، د افغانستان د ښځو حقونو او انساني کرامت درناوي ته د طالبانو د اړیستلو لپاره بین المللي هڅې نه یواځې چې هیڅ پایله یې نه درلوده بلکې ښځې د هرې ورځې په تېرېدو لا ډېرې له تبعیض او سختو محدودیتونو سره مخامخ شوې دي. سره له دې، د دې راپور موندنو ښودلې چې په افغانستان کې د ښځو او نجونو پر ژوند د محدودیتونو پلي کول د ۲۰۲۳ کال په بهیر کې د ۲۰۲۲ کال په پرتله سخت شوي دي.

لکه ځنګه چې «د ملګرو ملتونو سازمان د ښځو او نجونو پر وړاندې د تبعیض د مخنیوي کاري ډله» او د افغانستان لپاره د بشر حقونو د ځانګړي راپور ورکونکي ویلي چې طالبانو واک ته د رسېدو له وخته په سیستماتیک ډول ښځو سره تبعیض کړی او هغوی یې ځپلې دي او دا مهال په خورا افراطي او ښځه ځپونکي بڼه حکومت کوي.[۱۵]

## د ښځو د زده کړو د حق نقض

د زده کړو حق د افرادو تر ټولو مهم انساني حق دی چې د بشر حقونو بین المللي اسنادو ښوونیزو او تعلیمي فرصتونو ته د ټولو وګړو پر برابر لاسرسي ټینګار کړی دی.[۱٦] له همدې امله، د جنسیت پر بنسټ یا په نورو دلایلو د تعلیم حق ځخه په برخمنېدو کې تبعیض ته قایلېدل له یادو مقرراتو تیریدنه او د بشر حقونو نقض بلل کیږي.

سره له دې، طالبانو واک ته له بیا راتلو سره په تدریج او په سیستماتیکه او سازمان شوې بڼه افغانی ښځې او نجونې ښونځیو، پوهنتونونو او نورو ښوونیزو مرکزونو ته له تلو منعه کړې دي، چې په وروستي مورد کې د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ پر ۲۸مه د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت د یو رسمي لیک په صادرولو دولتي او خصوصي پوهنتونو کې د کانکور امتحان اخستل منعه کړل. په دې لیک کې په ټول هیواد کې له فعالو پوهنتونو غوښتل شوي چې ښځو ته تر بلې خبرتیا کانکور کې د برخې اخستو حق ور نکړل شي.[۱۷] اوس یواځې له شپږم ټولګی ښکته نجونې او د روغتیایي ښوونیزو مرکزونو محصلینې د حجاب د بې قید و شرطه رعایتولو په شرط او د امر بالمعروف اداري له سختو مقرراتو سره کولای شي درس ولولي. خو ترلاسه شوي شواهد ښیي چې طالبانو په یو شمېر ولایتونو کې د ښځو او نجونو د تعلیم اړوند دغه استثنا هم له منځه وړي او جدي مقررات یې اعلان کړي دي. **لکه ځنګه چې طالبانو د ۲۰۲۳ کال د نوامبر په میاشت کې په وروستي اقدام کې په کندهار ولایت کې روغتیایي ښوونیزو مرکزونو ته هم د ښځو ورتګ منعه کړی دی او په دې ولایت کې اوس ښځې نشي کولی په یادو مرکزونو کې زده کړه وکړي. سره له دې د طالبانو د امربالمعروف اداري د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۸مه نېټه په شفاهي ډول د غزني ولایت د ښوونځیو مسئولینو او مدیرانو ته امر کړی چې له لس کلنو پورته نجونې او هغه نجونې چې لوړ قد لري حتا له شپږم صنف ښکته هم ښوونځي ته پرې نږدي.**

۱۵ د ملګرو ملتونو سازمان، د بشر حقونو شورا، ښځو او نجونو سره د تبعیض په اړه د بشر حقونو په اړه د ځانګړي رپوټر او کاري ډلو رپوټ، ۳۱می، ۲۰۲۳. A_HRC_53_21-/06-https://www.ohchr.org/sites/default/files/2023 AEV-Dari.docx

۱٦ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۲٦مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹٦٦ کال تصویب شوی، ۱۳مه ماده.

۱۷ د طالبانو د لوړو زدکړو وزارت د محصلینو د چارو آمریت، ۳۵۱۹ شمېره لیک، ۲۰۲۳ کال د جنوري ۲۸مه.

په بامیان ولایت کې یو خصوصي ښوونځي په پټه له تعلیم څخه محرومو نجونو ته درسي صنفونه جوړول چې د ۲۰۲۳ کال په اکتوبر میاشت کې د طالبانو د استخباراتو ادارې له خوا په نښه او دغه پروګرام یې ودراوه.

**د ۲۰۲۳ کال د جون پر ۱۶مه د طالبانو د امربالمعروف ادارې او معارف ریاست په غزني ولایت کې نجونې له انګلیسي او کمپیوټر زده کولو منعه کړې او خصوصي ښوونیزو مرکزونو ته یې خبرداری ورکړ چې د نجونو لپاره خپل ښوونیز فعالیتونه ودروي. داسې موارد هم شته چې طالبانو د ښوونیزو مرکزونو مسئولین نجونو ته د انګلیسي ژبې د ورزده کولو له امله نیولي او بندیان کړي دي. د بېلګې په توګه د سپتامبر پر ۲۳مه د طالبانو د امربالمعروف ادارې په غزني ولایت کې د انګلیسي ژبې د زده کړې د ښوونیز مرکز یو مسئول په درسي صنفونو کې د نجونو د ګډون له امله ونیو.**

همدا راز د ۲۰۲۳ کال په سپتامبر او اکتوبر میاشتو کې د طالبانو استخباراتو په دایکندي ولایت کې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو درې تنه مسئولین نجونو ته د انګلیسي او کمپوټر د ور زده کولو له امله ونیول او د هغوی مرکزونه یې وتړل. په هرات ولایت کې هم د طالبانو د استخباراتو ادارې د ۲۰۲۳ کال په سپتامبر او نوامبر میاشتو کې کم تر کمه درې ښوونیز او هنري مرکزونه نجونو ته د ښوونیزو فرصتونو د برابرولو له امله وتړل.

## د کار او بوختیا له حق څخه محرومول

د کار او بوختیا حق ته لاسرسی د وګړو بل انساني حق دی. دا حق د بشر حقونو په بین المللي اسنادو او معاهدو کې پېژندل شوی او تضمین شوی دی. د جنسیت او قومي، مذهبي او ژبنیو اړیکو پر بنسټ هر ډول تبعیض او استثنا ته قائیلدل کار ته د لاسرسي په حق کې منعه دي. ښځو سره د هر ډول تبعیض د مخنیوی کنوانسیون، غړي دولتونه مکلف کړي دي چې په کار بوختو ښځو پر وړاندې د تبعیض ټولې بڼې له منځه یوسي او د ښځو او نرانو د برابرۍ د اصل پر بنسټ د کار فرصتونو ته د لاسرسي شرایطو د برابرولو لپاره اغېزناک اقدامات ترسره کړي.[18] سره له دې، طالبانو په افغانستان له نږدې درې کلونو حاکمیت او ډېر شمېر فرمانونو، اعلامیو او مقرراتو په صادرولو ښځې په دولتي او غیر دولتي ملي او بین المللي موسسو، سفارتونو، رسنیو او ورزشي، هنري او فرهنګي برخو کې له کار کولو منعه کړې دي. دا مهال یواځې ښځو ښوونکو په ابتدائیه ښوونځیو کې تر شپږم ټولګي او د روغتیایي برخو کارکوونکو ښځو د ولایتونو په مرکزونو کې د حجاب او شرعي محرم د درلودلو په شرط خپل کار ته ادمه ورکړې.

د ۲۰۲۳ کال د اپرېل پر ۵مه نېټه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستیالۍ دفتر (یونما) اعلان وکړ چې طالبانو خبر ورکړی چې له دې وروسته د ملګرو ملتونو د سازمان اړوندو بنسټونو سره هیڅ ښځه د کار کولو حق نه لري.[19] په همدې حال کې، د طالبانو سیمه ییزې ادارې د ښځو د کار د ممنوعیت په اړه د صادرو شویو فرمانونو د پلي کولو جدي څارنه کوي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د جون پر ٦مه د کندهار ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د دې ولایت د مهاجرینو په چارو کې ټولو فعالو غیر دولتي سازمانونو ته د ښځو د کار د ممنوعیت اړوند د طالبانو د رهبر امر ته د نه پاملرنې له امله خبرداری ورکړی دی.[20]

د رواداري د ارزونو موندنې ښیي چې طالبانو په ۲۰۲۳ کال کې نه یواځې د ښځو د کار او بوختیا د حق اړوند د شته خنډونو د له منځه وړلو لپاره کوم کار نه دی ترسره کړی بلکې لا محدودوونکي اقدامات یې ترسره کړي دي. لکه څنګه چې یې د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر۲۳مه په نیمروز ولایت کې په دسته جمعي ډول ښځې له روغتیایي برخو څخه شړلې دي او پر ځای یې نارینه استخدام کړي دي او هم یې د هیواد په ځینو برخو کې حتا د ښځو پر مخ د فن او حرفې د زده کړو د مرکزونو دروازې تړلې دي. **د بېلګې په توګه د ۲۰۲۳ کال په جولای میاشت کې د طالبانو د امربالمعروف ادارې په کندهار ولایت کې د خیاطۍ یو ښوونیز مرکز چې د بې سرپرستو ښځو لپاره رامنځته شوی و وتاړه او په دې ترتیب ښځې له دې فرصت څخه محرومې شوې. د ۲۰۲۳ کال په اګست میاشتې په یو ورته اقدام**

۱۸ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، ښځو سره د هر ډول تبعیض د مخنیوي بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۷۷ کال تصویب شوی، ۱۱مه ماده.

۱۹ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستیالي، «د ملګرو ملتونو سازمان د طالبانو د حاکمو چارواکو د امر پر وړاندې اعتراض کو چې په دې سازمان کې یې د ښځو پر کار بندیز لګولی»، د ۲۰۲۳ کال د اپرېل ۵مه، کابل. https:// un_protests_order_from_taliban_dfa_prohibiting_afghan_women_from_working_the_un_in_afghanistan_dari_0.pdf_-_05-04-unama.unmissions.org/sites/default/files/2023

۲۰ د غیر دولتي موسسو د انسجام ریاست، د مالي او همغږۍ معینیت، د طالبانو د اقتصاد وزارت، ۴۲۹۳ شمېره لیک.

**کې طالبانو په دایکندي ولایت کې د فن او حرفې یو ښوونیز مرکز چې د «آغاخان بنسټ» له خوا یې ملاتړ کېده، وتاړه. هغوی د دې موسسې له سیمه ییزو مسئولینو سره د ناوړه چلند تر څنګ ټولو غیر دولتي موسسو ته اخطار ورکړی چې ښځو ته د هر ډول فن او حرفې له ورزده کولو ډډه وکړي.**

د ۲۰۲۳ کال په جولای میاشت کې په خوست ولایت کې هم د یو غیر دولتي بنسټ فعالیتونه چې معمولاً یې د ښځو د پوهاوي لپاره کار کاوه، په دې ولایت کې د طالبانو د اقتصادي ریاست له خوا وتړل شول. د دې برخې د روغتیایي برخې مسئول چې د یو ښوونیز پروګرام د څارنې پر مهال یې خبري کولې عکس یې د طالبانو سیمه ییزو مسئولینو ته ولېږل شو او د دې بنسټ فعالیتونه د غربي پروژو د تطبیق او د بې دینی د ترویج په تور ودرول.

هغه څه ته په پام سره چې مطرح شول، طالبانو تر اوسه په ښکاره د افغانستان د ښځو انساني آزادی سلب کړې دي د تبعیضي سیاستونو په پلي کولو یې ښځې له کار او بوختیا څخه په بېلابېلو برخو کې محرومې کړې دي. له کوره بهر د ښځو د کار منعه کول او له ټولنې څخه د هغوی عمدي حذفول درنې او ویجاړوونکې پایلې درلودلې دي او په هیواد کې د فقر او نورو ټولنیزو ناخوالو سبب شوي دي.

## روغتیایي خدمتونو ته محدود لاسرسی

له روغتیایي خدمتونو او مراقبتونو څخه برخمنېدل د یو بشري حق په توګه د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې د ټولو وګړو لپاره په رسمیت پېژندل شوی او له دې حق څخه د جنسیت له امله یا په نورو دلایلو د افرادو قصدي محرومول په کلکه منعه شوي دي، د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون چې په ۱۹٦٦ کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له خوا تصویب شوی، غړي دولتونه یې مکلف کړي چې د دې حق لپاره د هیوادوالو د لاسرسي د اسانولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي. خو طالبان پر افغانستان د حاکمې ډلې په توګه چې سیاسي قدرت یې په لاس کې دی، د خپلو قانوني ژمنو برعکس محدودوونکي اقدامات ترسره کړي چې روغتیایي خدمتونو ته د ښځو د لاسرسي پر وضعیت یې اغېز کړی. لکه څنګه چې دا مهال ښځې له شرعي محرم پرته حتی د روغتیایي خدماتو د ترلاسه کولو لپاره هم له کوره د وتلو حق نه لري. ځکه د طالبانو د امربالمعروف اداري د امر پر بنسټ په ټول هیواد کې کلینکونه او روغتیایي مرکزونه له محرم پرته ښځې نه تداوي کوي. ډېر شمېر شواهد شته چې له هغو ښځو سره چې له شرعي نارینه محرم پرته یې روغتیایي مرکزونو ته مراجعه کړې په ناوړه چلند دلالت کوي.

**د اکتوبر پر ۲۴مه نېټه د بامیان ولایت د عامې روغتیا ریاست مسئولینو په درملتونونو کې په کار بوختو ښځو او ښځو ډاکټرانو ته خبرداری ورکړی چې له دې وروسته اجازه نه لري له محرم پرته خپلو دندو ته دوام ورکړي. هممهاله، د طالبانو د نیمروز ولایت د عامې روغتیا ریاست د ۲۰۲۳ کال د نوامبر پر ۲۳ مه له ۱۰۰ ډېرې ښځې چې په روغتیایي برخو کې یې پر کار بوختې وې او معاش یې د یو بین المللي سازمان له خوا ورکول کېده له دندو وشړلې او پر ځای یې د هغوی خپلوان او نږدې کسان استخدام کړل. دې مسالې روغتیایي خدماتو ته د ښځو د لاسرسي پر کچې منفي اغېز کړی.**

له بل پلوه، د روغتیایي خدماتو په مرکزونو کې د ښځو کارکوونکو شمېر د همدې سختو محدودیتونو له امله کم شوی. د پکتیا، پکتیکا، خوست، نورستان، لوګر او کنړ د ډېر شمېر ولسوالیو په ګډون په یو شمېر ولسوالیو کې په روغتیایي مرکزونو کې هیڅ ښځینه ډاکټره نشته. په یو شمېر دې ولسوالیو کې چې مخکې هم د طالبانو تر کنټرول لاندې وې، ښځو نشول کولای په روغتیایي مرکزونو کې کار وکړي. پر همدې بنسټ، اوس په روغتیایي مرکزونو کې د ښځو د نشتوالي، د امکاناتو د کمښت، د طالبانو له خوا د ټولنیزو محدودیتونو د وضعه کولو او د کورنیو د پوهې د کچې ټیټوالي له امله د کلیوالي سیمو امیدوارې ښځې نشي کولای په روغتون کې ماشوم وزیږوي.

## د آزاد تګ راتګ حق

طالبانو په تېره دري کلنه موده کې، تفریحي او ورزشي ځایونو، پارکونو او حتا زیارتونو ته د ښځو لاسرسی او آزدانه تګ راتګ منعه کړی دي. سره له دې، د ۲۰۲۳ کال په بهیر کې دا محدودیتونه چې مخکې به یې هم یادونه وشي، زیات شوي هم دي. طالبانو په سازمان شوي تبعیض او د ښځو د بنسټیزو آزادیو په عمدي توګه محدودولو سره په واقعیت کې د ښځو پر انساني کرامت او منزلت برید کړی او د دې هیواد د انساني ټولنې د برخې په توګه یې د هغوی وړتیا سلب کړې ده. د ژوند په بېلابېلو برخو کې د وګړو وړتیا او ځواک د آزادی له حق څخه د هغوی برخمنېدو ته اړتیا لري چې طالبانو د افغانستان له ښځو څخه دغه حق اخستی دی. دا مهال ښځې او نجونې نه یواځې د کار او تعلیم

له حقه محرومې شوې دي، بلکې حتا دا اجازه هم نه لري چې له نږدې خپلوانو څخه له يو سړي پرته له کوره بهر ووځي.

هغو ښځو سره چې بې محرمه ښار یا عمومي ځایونو ته تللي هغوی سره د طالبانو او په ځانګړي ډول د هغوی د امربالمعروف اداري د ناوړه چلند ډېر راپورونه شته. حتا ښځې د محرم د نشتوالي له امله نیول شوې او شکنجه شوې دي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د سپتامبر پر ۲۴مه په باميان ولايت کې د طالبانو د امربالمعروف اداري مامورينو دوه نجونې د حجاب اړوند د دې اداري د اوامرو د نه رعايت کولو له امله په ښار کې د لسګونو تنو په حضور کې په دُرو ووهلې. په دې ولايت کې په بل ورته مورد کې د طالبانو د امربالمعروف مامورينو د ۲۰۲۳ کال په نوامبر میاشت کې دوو نجونو سره د سپينو بوټونو پښو کلو له امله تاوتريخوالي او ناوړه چلند شوی.

د بېلګې په توګه طالبان په کندهار ولايت کې حتا له هغو ښځو څخه هم پوښتنې ګروېږنې کوي شرعي محرم هم لري، د هغوی د هويت کارتونه ګوري چې ښځو سره د روانو نرانو له کورنۍ اړيکې ډاډ ترلاسه کړي. په هرات ولايت کې هم طالبان موټرونه او نقليه وسايط ګوري چې بې محرمه ښځې په نښه کړي او د هغوی د سفر مخه ونيسي. د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۱۷مه نېټه د طالبانو د امر بالمعروف اداري په دې ولايت کې ټيکسي چلوونکو او زرنجونو ته خبرداری ورکړی چې د بې چادرۍ ښځو او نجونو د انتقال په صورت کې به و نيول شي او بنديان به شي. همدا راز، د هلمند ولايت په لښکرګاه ښار کې د طالبانو د امربالمعروف اداري مامورين د يو ښځينه «مارکيټ» منظمه څارنه کوي چې هغه ښځې په نښه کړي چې د سودا اخستلو لپاره يواځې له کوره راوتې دي. هغوی بې محرمه ښځې او نجونې، تحقيروي او ناوړه چلند ورسره کوي او هم يې د دې «مارکيټ» دوکاندارانو ته امر کړی چې ښځې بايد جنسونه له دروازې دباندې ووينې او بايد دوکان ته دننه ور نشي.

د ۲۰۲۳ کال د اګست پر ۲٦مه د طالبانو د امربالمعروف وزير باميان ته سفر وکړ او په خپله وينا کې يې خبرداری ورکړ چې له دې وروسته ښځې حق نه لري له «چادري» او شرعي محرم پرته بازار، د بند امير ملي پارک او فرهنګي او تاريخي ځايونو لکه شهر غلغله، او ضحاک ... ته لاړې شي. له هغې وروسته د طالبانو د امربالمعروف مامورين د پوستو په جوړولو د ښځو د پوښاک ډول څاري او کله چې کومه ښځه له چادري يا د هغوی د خوښې حجاب پرته له کوره ووځي او يا نارينه شرعي محرم ورسره نه وي بېرته خپلو کورونو ته ګرځول کېږي. همدا راز، طالبانو په نيمروز ولايت کې ښځې مذهبي مراسمو او حتا مساجدو ته له تلو منعه کړې دي.

## عدالت ته د لاسرسي نشتوالی

د رواداري موندنې ښيي چې واک ته د طالبانو د رسېدو راهيسې په ټول هيواد کې د ښځو پر وړاندې د ځورونو او تاوتريخوالي بېلابېلې بڼې زياتې شوې دي؛ ځکه طالبانو مخکني قوانين لغوه کړي او هغه ځانګړې بنسټونه چې ښځو سره د تاوتريخوالي جرايمو ته د رسېدو لپاره رامنځته شوي ؤ، له منځه وړي دي. دا مهال نه يواځې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د جرم ګڼلو او ممنوعيت لپاره هيڅ قانون نشته او قرباني ښځې نشي کولای عدالت ته لاسرسی ولري؛ بلکې د طالبانو پر نظام د حاکم ښځه ځپونکو او تبعيضي چلندونو له امله، ښځې له دوه برابره تاوتريخوالي او ناوړه چلند سره مخامخېږي.

د رواداري د څېړنو د پايلو پر بنسټ طالبان د ښځو د شخصيه احوالو اړوند قضيو ته په رسېدنه کې تبعيضي چلند لري او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي قضيو ته رسيدګي نه کوي او يا د قربانيانو په ضرر پرېکړه کوي. لکه څنګه چې دا مهال، د طالبانو په عدلي او قضايي بنسټونو کې هيڅ رسمي دوسيه د تاوتريخوالي قرباني ښځو د شکايت پر اساس نه ترتيبېږي او حتا د ښځو حادې جزايي قضيې يا د طالبانو په امربالمعروف اداره کې حل وفصل کېږي او يا غير قضايي ميکانيزمونو ته لکه سيمه ييزو جرګو ته راجع کېږي.[21]

په غزني ولايت کې عدلي او قضايي بنسټونه د تاوتريخوالي هغه قرباني ښځې چې شرعي محرم و نه لري حتا دې بنسټونو ته د داخلېدو اجازه نه ورکوي. سره له دې هغه ښځې چې د خپلو خپلوانو او نږدې کسانو له خوا له تاوتريخوالي او ناوړه چلند سره مخامخېږي، نشي کولای د طالبانو عدلي او قضايي بنسټونو ته د عدالت غوښتنې لپاره مراجعه وکړي. همدا راز، ښځو سره د تاوتريخوالي په قضيو کې د طالبانو عدلي او قضايي بنسټونه مدافع وکيل نه مني.

21 رواداري، د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې عدالت ته د لاسرسي د وضعيت څېړنيز رپوټ، جون ۲۰۲۳. https://rawadari.org/040620231612.htm/

په کندهار ولایت کې د امربالمعروف ریاست هغه ښځې چې له کوره تښتېدلې دي او دې ادارې ته یې پناه وړې له نورو تورنو ښځو سره یوځای ساتل کیږي. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د امربالمعروف ریاست د نظارت خونې ټول کارکونکي نارینه دي چې دې مسئلې د ښځو د مصئونیت اړوند اندېښنې رامنځته کړې دي. داسې موارد هم شته چې د دې ولایت د امربالمعروف ریاست کارکونکي هغه ښځې چې له محرم پرته له ټیکسي او ترانسپورتي وسایلو استفاده کوي بندیانې کړې دي او ډېر وخت بې برخلیکه پاتې دي.



عکس: سهراب عمر

### درېيمه برخه

# پایــله او وړانــدیزونه

# درییمه برخه - پایله او وړاندیزونه

## پایله

لکه څنګه چې د دې راپور موندنو ښودلې ۲۰۲۳ کال کې د بشر حقونو وضعیت په بېلابېلو دلایلو لا خراب شوی دی، لکه د قانوني میکانیزمونو نشتوالی، د ملي بنسټونو نړېدل، پراخه بې نظمي او تر ټولو مهم د بشر حقونو د ارزښتونو او موازینو د رعایت لپاره د طالبانو د ځواب ویني او التزام نشتوالی. لکه څنګه چې د هدفي، مشکوکو او له محاکمې پرته د وژنو د کچې زیاتوالی، د مخکني حکومت پر کارکوونکو او د هغوی د کورنیو پر غړو مرګوني غچ اخستونکي بریدونه، شکنجه، ناوړه چلند او د بندیانو وژل، د فردي او ډله ییزو عدالت غوښتونکو مدني اقداماتو په تاوتریخوالي سره ځپل او همدا راز اطلاعاتو ته پر لاسرسي د سختو محدودیتونو لګول په دې هیواد کې د بشر حقونو د ترینګلي وضعیت او ناورین ښکارندویي کوي.

هممهاله، په یاده موده کې نه یواځې د طالبانو په تبعیضي سیاستونو او مقرراتو کې هیڅ د مثبت بدلون نښه نه ده لیدل شوې؛ بلکې د هیوادوالو د ژوند په بېلابېلو بروخو، په ځانګړي ډول پر ښځو لا ډېر محدودیتونه اعمال کړي دي. د افغانی ښځې او نجونې دا مهال له خپلو تر ټولو لومړنیو انساني حقونو، لکه د کار او تعلیم حق او آزاد تګ راتګ له حقونو څخه محرومې شوې دي او طالبانو په دې موده کې له هیڅ ډول مسئولیت منلي او ځواب ویلو پرته لا هم د ښځو د بنسټیزي آزادۍ لا ډېر نقض او تبعیض ته دوام ورکوي.

له دې هر څه سره، تر هغه وخته چې د افغانانو بشري حقونه او په ځانګړي ډول د ښځو او قومي او مذهبي لږکیو آزادۍ د داخلي قوانینو له لارې ملاتړ او تضمین نشي او هم طالبان د هیوادوالو پر وړاندې د خپل چلند ځواب ویونکي نه اوسي، په دې هیواد کې به د بشر حقونو لرلید همداسې خړ پړ وي.

## وړاندیزونه

په افغانستان کې د بشر حقونو روان وضعیت او شته ستونزو ته د رسېدو لپاره رواداري لاندې موارد نړیوالې ټولنې او حاکمو چارواکو ته وړاندیزوي:

### حاکمو چارواکو ته:

- له حاکمو چارواکو غواړو چې د بشر حقونو د هغو اسنادو مفادو او مقرراتو د درناوي په برخه کې پر خپلو قانوني تعهداتو او مکلفیتونو عمل وکړي، چې افغانستان ورسره یوځای شوی، او تر دې زیات د افغانستان د خلکو د بشري حقونو د نقض مرتکب و نه ګرځي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د افغانستان د نیمې انساني ټولنې په توګه د ښځو بنسټیزو حقونو ته درناوی وکړي او په دې برخه کې عملي تدابیر پلي کړي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د مخکني حکومت د کارکوونکو، د بشر حقونو د مدافعانو او خپلو مخالفینو او منتقدینو له محاکمې پرته وژنې ودروي او د مخکني حکومت د کارکوونکو د امنیت او مصئونیت لپاره اقدامات ترسره کړي، او هم د نامعلومو کسانو له خوا د مشکوکو او له محاکمې پرته وژنو ته د رسېدنې لپاره د خپلو اقداماتو اړوند راپور او معلومات وړاندې کړي.
- له حاکمو مقاماتو غواړو چې خپلسرو او غیر قانوني نیونو، شکنجې او له بندیانو سره ناوړه چلند ودروي او له زندانونو څخه د حقوق بشري بنسټونو منظمو څارنو ته زمینه برابره کړي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د خپلو قانوني مکلفیتونو پر بنسټ، له جګړې څخه پاتې چاودیدونکو توکو باندې د لړلو سیمو پاکولو ته جدي پاملرنه وکړي او په دې برخه کې اغېزناک اقدامات ترسره کړي.

## نړیوالې ټولنې ته:

- د ملګرو ملتونو سازمان او نړیوالې ټولنې غواړو چې د افغانستان مسئلې سره په چلند کې د بشر حقونه او د دې هیواد د ښځو انساني آزادۍ د خپلو پریکړو په لومړیتوب کې راولي.
- له مجازاتو د معافیت له فرهنګ سره جدي مبارزه او پر افغانستان د حاکمې ډلې په توګه د طالبانو ځواب ویونکي کول، په افغانستان کې پراخ او سیستماتیک نقض د ختمولو مخکې شرط دی. پر همدې بنسټ، له نړیوالې ټولنې غواړو چې د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقونو شورا، بین المللي جزایي محکمې او نورو د حساب ورکونې میکانیزمونو په ګډون له قانوني ابزارو او بین المللي میکانیزمونو څخه په استفادې د طالبانو د غیر قانوني چلندونو پر وړاندې د هیوادوالو د ملاتړ لپاره اغېزناک اقدامات ترسره کړي.
- په افغانستان کې د ښځو د حقونو پراخ او منظم نقض د جنسیتي آپارتاید ښکاره مصداق دی او په هیواد کې د فقر، افراط او کړکېچ سبب ګرځي. له نړیوالې ټولنې، د سیمې له هیوادونو او اسلامي هیوادونو څخه غواړو چې په افغانستان کې د جنسیتي آپارتاید په منلو سره اوسني ناورین ته متناسب ځواب ولري؛ څکه پر تلپاتې سولې ولاړې ټولنې ته رسېدل او د بشر حقونو ارزښتونو څخه برخمنېدل د ښځو د انساني آزادیو له تضمین پرته ممکن او میسر نه دي.
- له نړیوالې ټولنې غواړو چې په افغانستان کې د مخکني حکومت د کارکوونکو  او د هغوی د کورنیو د امنیت او مصئونیت د ساتنې لپاره اقدام وکړي چې د طالبانو له غچ اخستنې سره مخ دي. په دې برخه کې له حاکمو چارواکو سره خبرې وشي او ډاډ ترلاسه شي او هم د قربانیانو د کورنیو لپاره د شکایت د ثبت امکان رامنځته شي.
- د ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړو چې د طالبانو تر کنټرول لاندې د زندانونو د وضعیت په اړه او په ځانګړي ډول د شکنجې، ناوړو چلندونو او د بندیانو د قتل په اړه او هم د شخصي او غیر قانوني زندانونو د موجودیت په اړه څېړنه وکړي او خپلې موندنې د افغانستان له خلکو او حقوق بشري سازمانونو سره شریکې کړي.

WWW.
RAWADARI
.ORG